مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر محب الله زغم ۲۰۲۴/۰۶/۱۲

په نوي نصاب کې د ژبې په مضمون کې

د وینا او مباحثې برخه

د افغانستان د پوهنې وزارت په نوي تعلیمي نصاب کې مضموني قابلیتونه تر پخوا متفاوت دي. د نوي نصاب د مورنۍ ژبې په مفرداتو کې مضموني قابلیتونه دا دي: لوستل، خبرې کول، غوږ نیول، لیکل، د کلمو زېرمه، او ګرامر. هر قابلیت ځان ته څو فرعي قابلیتونه لري چې وار په وار سره به توضیح شي. په دې مقاله کې به د خبرې کولو او غوږ نیولو قابلیتونه راوسپړو.
د غوږ نیولو په قابلیت کې دغه فرعي قابلیتونه شامل دي:

۱. غوږ نیول

۱.۱. فعاله غوږ نیونه
۱.۲. د شفاهي متنونو درک او فهم
۱.۳. د شفاهي متنونو تحلیل، نقد او ارزونه
۱.۱. د فعالې غوږ نیونې په برخه کې شاګردان دا زده کوي چې د کلامي او غیر کلامي نښو په وسیله له ویناوال سره مؤثر اړیکي جوړ کړي؛ د وینا مهم ټکي یادښت کړي؛ پر وینا د ښه پوهېدا لپاره ځینې پوښتنې وکړي. د دې هدف د تحقق لپاره په مختلفو دورو کې متنوع فعالیتونه راغلي دي. مثلاً ځینو شاګردانو ته موضوع ورکول کېږي چې په بل درسي ساعت کې یې په اړه وینا وکړي. نور شاګردان ویناوال ته په ځیر غوږ نیسي او د سر په اشاري یا تأییدي کلمو سره خپله لېوالتیا ښیي او له ویناوال سره رابطه ټینګوي. همدارنګه د وینا مهم ټکي په کتابچو کې لیکي ځکه چې د همدې ساعت کورنۍ دنده یې په یو پراګراف کې د وینا د مهمو خبرو لیکل وي.
۱.۲. دا موضوع چې شاګردانو د شفاهي متن (وینا) مفهوم ښه درک کړی دی که نه؛ داسې معلوموو: له شاګردانو څخه د موضوع په باره کې مستقیمې او استنباطي پوښتنې کېږي؛ له هغوی څخه غوښتل کېږي چې د ګروپي بحث خلاصه او نتیجه بیان کړي؛ او د ویناوال د خبرو خلاصه ولیکي.
۱.۳. د وینا نقد او ارزونه داسې کېږي چې شاګردان د ویناوال خاص مقصد توضیح کوي؛ د وینا شواهد، مثالونه او دلیلونه ارزوي او د سموالي یا ناسموالي په باره کې خپل نظر وایي؛ د ویناوال بدني حرکتونه او د وینا لحن ارزوي او نقدوي یې؛ د وینا ښکاره پیغام ارزوي؛ په نسبتاً پېچلیو شفاهي متنونو کې د معلوماتو، اقناع، یا سرګرمۍ لپاره کارول شوي میتودونه تشخیصوي؛ د شفاهي متن د بهترۍ لپاره وړاندیزونه کوي.
بل قابلیت خبرې کول دي چې فرعي قابلیتونه یې لاندې تشریح کېږي:

۲. خبرې کول

۲.۱. واضحه او منسجمه وینا
۲.۲. د مختلفو موضوعاتو په اړه وینا
۲.۳. خبرې اترې (ډلهییز بحثونه)
۲.۴. د وینا لپاره د موادو او وسایلو کارول

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د خبرې کولو لپاره دوه ډوله فعاليتونه په پام کې نيول شوي دي چې يو يې ويناکول او بل يې مباحثه ده. د وينا لپاره شاګردانو ته د هغوی د عمر او سويې مطابق مختلف عيني او انتزاعي موضوعات ورکول کېږي چې تياری ورته ونيسي او بيا ټولګيوالو ته وينا وکړي. محترم ښوونکي/ ښوونکي شاګردانو ته د وينا اصوال او ادبونه ورښيي، مثلاً ورته وايي چې:

- خپله وينا به د بسم الله الرحمن الرحيم په ويلو پيلوئ؛
- غږ به مو په کافي اندازه اوچتوئ چې ټولو اورېدونکو ته ورسېږي؛
- د وينا پر مهال به له مخاطبانو سره د سترګو تماس ساتئ؛
- وينا به مو په واضحو ټکو کوئ؛
- د وينا په بهير کې به له مناسبو بدني حرکتونو څخه کار اخلئ؛ او
- وينا مو بايد منسجمه وي.

همدارنګه شاګردانو ته د وينا د ترتيب مختلف ډولونه ښوول کېږي، لکه: د پيل، منځ، او پای ترتيب؛ زماني ترتيب؛ او د «څوک/ چا، کله، چېرې، څنګه، ولې» نمونه. پر دې سربېره، شاګردان هڅول کې چې د موضوع له اقتضا او له خپلو امکاناتو سره سم، د وينا د لا مؤثريت لپاره ځيني مواد او وسايل وکاروي، لکه: رسمونه، چارټونه، ګرافونه، ډياګرامونه، عسکونه، ويډيوګاني، او پاور پاينټ پريزنټېشن.

د خبرې کولو د قابليت بله برخه مباحثه ده. شاګردانو ته مختلف عيني او انتزاعي موضوعات ټاکل کېږي او د بحث لپاره د ټاکل شوي موضوع په اړه دري پوښتنې ورکول کېږي. شاګردان په شپږ کسيزو ډلو کې خبرې اتري، بحث او استدلال کوي او د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې د بحث نتيجه نورو ته وايي. په دې ترڅ کې ښوونکي/ ښوونکي شاګردانو ته د مباحثې ځيني ادبونه او اصول ورښيي، مثلاً ورته وايي:

- خبرې به په وار سره کوئ او د وار د معلومولو لپاره اصول پخپله بايد وټاکئ؛
- د بل په خبرو به نه لوبېږئ؛
- د يوې موضوع په باره کې به نظرونه متفاوت او مختلف وي، دا طبيعي ده؛
- د بل نظر به په غور سره اورئ او خپل نظر به په سړه سينه وايئ؛
- که مو نظر د بل له نظره توپير ولري او د هغه نظر ردوئ، په ادب او استدلال به يې ردوئ؛ او
- د خپل نظر پر سموالي له حده زيات ټينګار به نه کوئ؛

د وينا او مباحثې فعاليتونه په شاګردانو کې پر ځان باور زياتوي، د مفاهمې مهارت يې زياتوي، د خپلو مفکورو او احساساتو بيان ور زده کوي، د همکارۍ روحيه په کې پياوړي کوي، د ځاني مديريت قابليت يې روزي، د مسئلې د حل لارې چارې ور زده کوي، زغم او بل منل يې زياتوي، ټولنيز اړيکي يې سموي، او دا ټول په شخصي، ټولنيز او کاري ژوند کې هغوی برياليتوب کوي.

که دغه فعاليتونه په ټولګيو کې سم تطبيق شي، راتلونکي نسلونه به مو د ژوند په اساسي قابليتونه سمبال وي.

۲۰۲۱/۲/۱۸

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ